مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۵/۱۰/۲۷

د پیر صاحب مبارک،

د مطهري میرمني د خولې خبره

هغه د پیر صیب مبارک، مطهره میرمني ته منسوب نقل، چې د خپل خاوند لخوا **په زرګونه جریبه ځمکه یې غصب نه، بلکې غنیمت ګڼلې**، ډېره قیمتي خبره ده.

زما یې دا شهامت ډېر خوښ شو. د انسان باید د زړه خبره په خوله وي او دوه رنګي ونکړي. وګورئ؛

کله چې د ډاکټر نجیب حکومت سقوط شو؛ په وطن څه حال ګډ شو؟

ګریس بند درندې او سپکې وسلې څه شوې؟ الوتکې او ټانګونه څه شول؟ آن د جنګلک په شمول د فابریکو ماشینونه څه شول؟ د ننګرهار کانال مربوط زراعتي ماشینونه، چې هغه وخت یې په سیمه کې سیال نه درلود څه شول؟

د ملي موزیم په سلګونو قیمتي اثار څه شول؟

او...؟؟؟؟

بسه،

که د هغه وخت فاتحانو د ملت دا شتمني غنیمت نه ګڼلې، داسې په بې رحمۍ به یې پر نورو پلورل؟ واقعیت هماغه دی چې د پیر صیب مبارک میرمني ویلی او هغه دا چې هغه وخت د وطن ټوله شتمني تنظیمونو ته شخصي غنیمت ښکاریده.

او دا یې خپل حق ګڼلو چې چاته او په څو یې خرڅ کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ